مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملكزى

۲۰۲۳/۰۷/۰۲

# حج او په میکده کې جانماز

د سه شنبې په ورځ د ۱۵۰ هیوادونو څخه راغلي دوه ملیونه حاجیان د عرفات د غونډۍ په سر او لمن کې راټول شوي وو. ټکنده غرمه وه، خو په سپینو احرامونو کې ایماندارو ښځو، نارینه وو او حتی کمکیو ماشومانو یو وړوکې محشر جوړ کړې وو. یو سپیڅلی احساس او د خودۍ او بې خودۍ یوه ناشنا جذبه وه. هرچا خپل لاسونه د عرش واکمن ته لپه نیولي وو؛ د نصوحا توبې وې، په شونډو زارۍ وې او په اننګو د پښیمانو اوښکو امیلونه.

د عرفات په همدغې غونډۍ، له نن څخه ۱۴۳۴ کاله وړاندې یعنې د هجرت په لسم کال، د خالق تعالی وروستي او ربښتیني استازي، خپل امت ته د نورو احکامو او لاربښوونو په څنګ کې یوه توصیه بیا بیا تکرار کړه چې: اتَّقوا اللهَ في النِّساءِ و استوصوا بالنساء خیراً. له الله تعالی وډارېږئ او له میرمنو سره ښه ګوزاره او ښه چلند وکړئ. خو دریغه دریغه، زموږ د ټولنې زیاتره نارینه خپلو میرمنو او لوڼو ته د یو جایداد او ملکیت په سترګه ګوري. د هغوئ په سر مهر او ولور اخلي؛ په بدیو کې یې ورکوي او د میراث او تعلیم له حق څخه یې محروموي.

د چارشنبې ورځ همدغو حاجي صاحبانو په منی کې شیطان یا د شیطان درې واړه سمبولونه په ۲۱ کاڼو وویشتل. خو د شومتیا، تعصب او کرکې شیطانان چې موږ په زړونو، رګونو او سوچونو کې یې پښې مورچلې جوړې کړېدي، همداسې آزاد او نازولي دي. حاجي صاحبانو په منې کې نژدې شپږ لکه څاروي حلال کړل، خو آیا پوهیږو چې د یو قرآني آیت له مخې دغه پریمانه غوښې او سرې وینې الله ته نه رسیږي، بلکې تقوی، ښه اخلاق، خواخوږي او انسانیت د انعام او ښښنې لامل ګرځي؟ د خواجه عبدالله انصاري دا شعر ماته د کاڼي کرښې ښکاري چې وایي: ابوجهل از کعبه می آید، ابراهیم زبتخانه - کار به عنایت تو بود، باقي بهانه

حج د زغم، پخلاینې، همدردۍ او برابرۍ دوهم نوم دی. حج د خلیل او ذبیح د شهامت یاد ګار او د صفا او مروی په منځ کې د یوې لالهندې او ویاړلې مور د تلوسې دوام دی. حج د هغه نیازبین ذبیح د سرښندنې داستان دی چې د نافرمانۍ او عصیان په ځای، خپل پلار ته وړاندیز کوي: پلار جانه! حوصله دې پرځای کړه، وارخطا نه شې؛ زما سر ستا په قدمونو کې دی. زه چمتو یم، زما وینه توئ کړه چې د رب په دربار کې ستا سر نور هم هسک شي.
ټول پوهیږو؛ د لمر سترګه چې کله د نیوزیلنډ له غرونو سر راپورته کړي او وار په وار د همالیا، پامیر، هندوکش، اورال، آلپ او بالاخره د آلاسکا او آرجنټین له دنګو څوکو پناه شي، نو شغلې یې د جومات، ګوردوارې، درمسال، کلیسا او سنیګاک ترمنځ هیڅ توپیر نه کوي. نو موږ ولې له چا کرکه وکړو، له نورو ځان بهتر وګڼو او د نورو له درد او رنځ څخه خوند واخلو؟ الله تعالی خو د مځکې او اسمانونو نور دی او پیغمبر یې د رحمت سمبول او د انسانیت معراج. ځکه خو رحمان بابا وایي: دا زما د یار جلوه ده چې لیده شي - لکه لمر په صومعه په سومنات

عقیده د خالق او مخلوق ترمنځ یو نالیدلې مزې دی؛ د ځینو خلکو له فولادو څخه هم مزبوت وي او د ځینو هسې د غنې تار وي. رغون او سمون د خپل ځان او زړه څخه پیل کیږي، کنه نو په میکدې کې به د جانماز د لټولو او د زمزم په اوبو له استنجا پرته بل څه نه وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ